# اسلامي پوښتني او ځوابونه

Download from:aghalibrary.com

## ((داسـلامـي ښـووني سـوالونه اوجـوابـونه))

**1:سوال.ايمان** تعريف کړئ؟

**جواب:**ايمان په لغات کي قصداوارادې ته وائې.

اوپه اصطلاح کي په زړه يقين اوپه ژبه اقرارکولوته ايمان وايې.

**2.سوال:**کفالت تعريف کړئ؟

**جواب:**کفالت په لغت کې يوځای کېدوته وايې.

اوپه اصطلاح کې په يوچادثابت مال اويادهغه ځان ضمانت کول په داسي توګه چي غوښتوونکی يې داصېل اوکفيل دواړوڅخه غوښتلای شي کفالت ببل کيږي

**3.سوال:**دکفالت ددرواوالي دليل؟

**جواب:**دضمانت درواوالي په قرآنکريم احاديثواجماع باندي ثابت دي.

**4.سوال:**داوښ بارچاته ورکول کيده؟

**جواب:**هغه چاته ديواوښ باربه په جايزه ورکول کيږي چي ديوسف عليه السلام ورکه شوې پيمانه راوړي اوزه يې ضامن يم.

**5.سوال:**نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايې «لزَّعيم وغَارم»

**جواب:**ضمات کوونکی به تاوان ګالي.

**6:سوال.**ټولومسلمانانوکفالت په رواوالي څنګه اجماع کړيده؟

**جواب:**ټولومسمانانودکفالت په رواوالي له دي امله اجماع کړيه چي خلکه ورته اړتيالري.

**7.سوال:**دکفالي رکن څه شی ده؟

**جواب**.دکفالي رکن ايجاب اوقبول دي.

**8.سوال:**کفالت په څوډوله ده؟

**جواب:**کفالت په دوه ډوله ده1.دیوچادځان ضمانت کول چې دیته کفاله بالنفس وایې

2.دیوچادمال ضمانت کول چې کفالت بالمان بلل کیږي.

**9.سوال:**کفیل چاته ویل کیږي؟

**جواب:**هغه څوک دي چې دبل چادمال اویاضامن کیږي.

**10.سوال:**مکفول عنه:چاته ویل کیږي؟

**جواب:**اصلي پوروړی چې داصیل په نامه هم یادیږ.

**11.سوال:**مکفول له:چاته ویل کیږي؟

**جواب:**مکفول له دحق خاوندته ویل کیږي.

**12.سوال:**دکفالې محل به څه شی وي؟

**جواب:**دکفالې محل به یانفس وي اویامال.

**13.سوال:**دکفالې شرطونه په لاندي ډول دي؟

**جواب:**ځانګړي شرطونه لري چې صیغې،کفیل،مکفول له اومکفول به پوري اړه لري اوپه لاندي ډول بیانیږي

**14.سوال:**دصیغې شرطونه دي؟

**جواب:**دصیغې شرطونه درې دي.

**15.سوال:**کفیل بایدڅنګه اهلیت ولري؟

**جواب:**کفیل بایددتبرع (ورکړي اوبخښلو)اهلیت یعنې عاقل اوبالغ وي.

**16.سوال:**داصیل مدیون شرطونه څودي؟

**جواب:**1.اصیل بایددمکفول په تسلیمولوقادروي2.اصیل بایدکفیل ته معلوم وي

**17.سوال:**دمکفول له شرطونه څودي؟

**جواب:**درې دي.

**18.سوال:**حواله په څوشیانوپای ته رسیږي؟

**جواب:**په اوو(7)شیانوپای ته رسیږي.

**19.سوال:**توحیدتعریف کړی؟

**جواب:**توحیدپه لغت کی یوالی ته اوپه اصطلاع الله تعالی باندی زړه یقین او باور کول اوپه ژبه اقرارته وای.

**20.سوال:**دوکالت ارکان څه شي دی؟

**جواب:**دوکالت رکن ایجاب اوقبول دی.

**21.سوال:**وکیل چاته ویل کیژی؟

**جواب:**هغه شخص دی چی په یوجایزاومعلوم کاراوتصرف کی ځای پرځای بل کس ته کولوواک ورکوی.

**22.سوال:**موکل چاته ویل کیژی؟

**جواب:**موکل به هغه جابزاومعلوم کاراوتصرف څخه عبارت دی دموکل اووکیل ترمنځ پرې اتفاق کیږي،

**23.سوال:**وکیل څوک کیدلاشي؟

**جواب:**وکیل به عاقل وي څوپه عقدپوشی یعني داسي چی بعیه یاپلورنه وپیژني

**24.سوال:**دوکالت درو الی حکمت؟

**جواب:**داسی پیښیږی چې ځیني وخت یوانسان دځیني کارونودکولوڅخه عاجروی اودکاربل څوک په توګه کولاشی دهمدی بنیګڼې اوحکمت له پاره وکالت رواشوی دی.

**25.سوال:**دحضرت عمرفاروق(رض)دچازوی وه؟

**جواب:**حضرت عمرفاروق(رض)دخطاب زوی وه.

**26.سوال:**مضاربت رکن څه شي دی؟

**جواب:**دمضاربت رکن ایجاب اوقبول دي په هغوالفاظوباندی چی په مضاربت دلالت کوي.

**27.سوال:**مضاربت په څوډوله ده.

**جواب:**مضاربت په دوډوله ده.

**28.سوال:**مضاربت ډولونه کوم دی؟

**جواب:**1.مطلق مضاربت2.مقیدمضاربت.

**29.سوال:**مطلق مضاربت کو دی؟

**جواب:**مطلق مضاربت هغه دی چی یوڅوک بل چاته خپل مال دمضاربت په نوم ورکړی.

**30.سوال:**مقیدمضاربت کوم دی؟

**جواب:**هغه دی چس څوک چاته ټاکلی اندازه روپۍ دمعین مال،معین ښارمعین وخت یایو خاص شخص سره دمعاملې کولولپاره ورکړی.

**31.سوال:**دمضاربت حکم څه شي دی؟

**جواب:**مضاربت یوغیرلازم عقددی برابره ده دکاردپیل څخه مخکی وی اوله وروسته

**32.سوال:**وکالت څنګه رواشوی دی؟

**جواب:**ددی لپاره چی یوانسان نه شی کولای خپل ټول کارونه یوځی ترسره کړی.

**33.سوال:**دحواله کوونکی خبره دقسم سره دباوروړده اوکه نه؟

**جواب:**دقسم سره دباوروړده.

**34.سوال:**مضاربت تعریف کړی؟

**جواب:**مضاربت په لغت کي دضرب باسفرپه معناده ځکه چی کارګرسفرته اړتیالری اودفقها دوپه اصطلاع کي هغه عقددی چي مالک مال دتجارت لپاره بل چاته پداسی ډول ورکړی چي ګټه به دواړوه ټاکلي شرط سره سم ویشي.

**35.سوال:**مضاربت بل نوم څه شي دی؟

**جواب:**مضاربت ته فراض هم ویل کیږی.

**36.سوال:**مضاربت روالي په څه شی دی؟

**جواب.**مضاربت په قرآنکریم،احادیثواواجماع باندی ثابت دی.

**37.سوال:**مضاربت په ځمکه کي دڅه شي لټونه کوی؟

**جواب:**مضاربت په ځمکه کي الله جل جلاله دفضل لټونه کوی.

**38.سوال:**په کفالت کي غوښتونکی پرچاحق لری؟

**جواب:**په کفالت کی اصیل اوکفیل دواړوحق لری.

**39.سوال:**دحوالی دروای دلیل څه دی؟

جواب:پورحواله دنبی اکرم(ص)په احادیثواوجماع باندی رواشوده.

**40.سوال:**دکفالی احکام څولوکوم دي؟

**جواب:**دکفالی احکام دوه دی1.داین به کفیل څخه دهغه څه مطالبه کوی چي په اصیل باندی يي لريې2.کفیل به داصیل څخه هغه څه غواړی چي دڅه شی ضمانت يې کړی وی.

**41.سوال:**محیل چاته ویل کیږی؟

**جواب:**هغه چاته ویل کیږي چي پوروربادي وی.

**42.سوال:**محال چاته ویل کیږي؟

**جواب:**محال هغه کس ته ویل کیږی چي دحق خاوند وي.

**43.سوال:**محال علیه چاته ویل کیږی؟

**جواب:**محال علیه هغه چاته ویل کیږي چی دبل پوورکړه يې په ځان منلی وي.

**44.سوال:**محال چاته ویل کیږی؟

**جواب:**محال به پورته ویل کیږی چی بل کس ته حواله شوی وي.

**45.سوال:**حواله په څه رواده اوپه څه شی کی جواز نه لری؟

**جواب:**حواله په پورونوکی رواده،خوپه اعیانوکی جوازنه لری ځکه چی دادنقل اواړولوپه معناده

**46.سوال:**ایجاب اوقبول بایدچیرته وی؟

**جواب:**ایجاب اوقبوبایدپه یومجلس کی وی.

**47.سوال**:عقدبابدقطعی وی که نه وی؟

**جواب**:عقدبایدقعطی وی هیڅ ډول خیاربه پکی شرط شوی نه وي.

**48.سوال**:حواله کونکی بایدڅه شی وی؟

**جواب**:حواله کونکی بایدعقل اوبالغ وي.

**49.سوال**:حواله کونکی بایدڅنګه حواله ترسرکړي؟

**جواب**:حواله کونکی به په خوشي سره حواله ترسره کوي په زورسره حواله صحیح نه ده.

**50.سوال**:محال عیه یاحواله شوی شخص بایدڅنګه وی په حواله باندی؟

**جواب**:محال عیه یاحواله شوی شخص به په حواله خوښ لوراضی وی.

**51.سوال**:حواله شوی شخص بایدحواله چیرته ومنی؟

**جواب**:حواله شوی شخص بایدحواله دعقدپه مجلس کی ومنی.

**52.سوال**:حواله کوونکی خلاصیدل به څنکه وب؟

**جواب**:کله چی حواله دمقابل لوری په منلوسره پای ته رسیده حواله کوونکی برات لاسته راوړاوله پور څخه خلاص شو.

**53.سوال**:مضاربت په څوشیانوپای مومي؟

**جواب:**مضاربت په شیانوپای مومي.

**54.سوال:**که چیری مضاربت ګټه کړي وی نومصارف به له کوم ځای نه ورکوی؟

**جواب:**که مضاربت ګټه ګړی وی نومصارف به له همدی څخه به ورکوی.

**55.سوال:**که چیر مضاربت ګټه نه وی کړی نومصارف به له کوم ځای نه ورکوی؟

**جواب:**که مضاربت ګټه نه وی کړی بیابه مصارف له پانګی څخه ورکول کیږی.

**56.سوال**:هبه تعریف کړئ؟

**جواب**:هبه په لغت کی ورکړي اوتبرع ته وایي.

اوپه اصطلاع کی هرهغه عقداوتړون چي په ژوندانه کي په خپله خوښه پرته له کوم عوض څخه بل ته ملکیت ثابتوي هبه ویل کیږي.

**57.سوال**:دهبه درواوالي دليل څه ده؟

**جواب**:هبه په قرآنکريم حاديثواواجماع باندي رواشوې ده.

**58.سوال**:دهبی رکن څه ده؟

**جواب**:دهبی رکن ايجاب اوقبول دقبض دهبی رکن دی.

**59.سوال**:دمضاربت دراس المل(پانگی)شرطونه څودی؟

**جواب**:څلوردی.4

**60.سوال**:گټې شرطونه څودی؟

**جواب**:دوه دی.2

**61.سوال**:مضارب په مضاربت څنگه شريک شمېرل کيږب؟

جواب:مضارب په مضاربت کي دخپلی برخی دگټی په اندازه شريک شمېرل کيږی.

**62.سوال**:که چيري مضارب دعقدټاکلوشرطونه څخه مخالفت وکړی څنگه شمېرل کيږی؟

**جواب**:غاصب شمېرل کيږی ځکه ده دبل چاپه ملکيت تيری کړی

**63.سوال**:دمضاربت تاوان په چادی چی گټه شتون ونلری؟

**جواب**:مضاربت تاوان دمال په خاونددی په هغه صورت کی گټه شتون ونلری.

**64.سوال**:که چيری دگټی څخه وروسته تاوان رامنځته شی نوله کوم ځای څخه ورکول کيږی؟

**جواب**:له گټی څخه ورکول کيږی.

65.سوال:يَالتقيان

**جواب:ديوبل سره مخامخ کيږی.**

**66.سوال**:يعرض هذا؟

**جواب**:مخ اړوي دی له هغه څخه.

**67.سوال**:فوق ثلاث؟

**جواب**:ريات له درې(ورځو)

**68.سوال**:آتيع السيئة الحسنة؟

**جواب**:دبدئ پسي نيکي وکـړه.

**69.سوال**:حيثما كنت؟

**جواب:**په هرځای اوهرحالت کې چې یي.

**70.سوال**:منتواضع ﷲِ؟

**جواب**:چاچې دالله جل جلاله لپاره عاجزي.کړه.

**71.سوال**:النصيحة

**جواب**: اخلاص،خيرغوښتنه،اونوروخلکوته نېکه مشوره ورکول.

**72.سوال**:لايحل؟

**جواب**:روانه ده.

**73.سوال:**فليکرم ضيفهٌ؟

**جواب**:نودخپل ميلمه عزت دې وکړي.

**74.سوال**:فليکرم جارهْ؟

**جواب**:نودخپل ګاونډي عزت دې وکړي.

**75.سوال**:فليقل خيراً؟

**جواب**:نونېکي خبرې دې وکړي.

**76.سوال**:تراحمهم؟

جوب:ددوې ترمنځ زړه سوی.

**77.سوال**:ائمةالملمين؟

**جواب:**دمسلمانانوپېشوايان اوحاکمان

**78.سوال**:ته الله تعالی سره اخلاص په څه شي کيدی؟

**جواب**:دخلکولپاره خيرغوشتنه،دالله تعالی دخوښی دپاره،حاکمانواوعامومسلمانانو ته نيکی مشوری ورکول.

**80.سوال**:ان يهجراخاه؟

**جواب:**داچې دخپل وروړسره اړیکې پرېکړي.

**81.سوال:**له ابي هریر(رض)څخه څه روایت دی؟

جواب:که څوک په الله تعالی اودآخرت په ورځ ایمان لري نودخیرخبري دي اویاد ې چوپ اوسی.

**82.سوال:**دآخرت په ورځ باندی ایمان درلودل څه شی دی؟

**جواب:**په الله تعالی اودآخرت په ورځ باندی یمان درلودل دزړه عمل دی خوهغه وخت نورخلک پری پوهیداي شي چی نښي اونښانی یی په خبرواویاعمل څرګندي شی

**83.سوال:**میلمه چاته ویل کیږی اومیلمه عزت څومره ثواب لری؟

**جواب:**میلمه په عرف کی هغه سړی ته ویل کیږی چی انسان کورته په اجازه اویا دده په دعوت سره ورشی اودمیلمه عزت کول دایمان بله نښه ده.

**84.سوال:**له حضرت نعمان بن بشیر(رض)څخه څه روایت شودی؟

**جواب:**مسلمانان په خپلومنځونوکی په دوستی،زړه سوی،لوشفقت کی دیوبدن مثال لری.

**85.سوال:**کفالت په څوډوله دی؟

**جواب:**کفالت په دوه ډوله دی.1.کفالت بالمال2.کفالت بالنفس.

**86.سوال:**دکفالت بالمال په څولاروسرته رسیږی؟

**جواب:**کفالت بالمال په یودوولاروسرته رسیږی.

**87.سوال:**کفالت بالنفس په کوموشیانوسرته رسیږی؟

**جواب:**1.دسړی سپارل غوښتونکی په هغه ځای کی چی دقاضی ه معبلس ته یي حاضروی شي.2.ابرا کله چی دحق خاوندکفیل ته آبرا بزکړی3.کله چی به خپله مکنول مړشی کفالت بالنفس پایته رسیږی.

**88.سوال:**په اصیل باندی دکفیل رجوع څوشرطونه لری؟

**جواب:**په اصیل باندی دکفیل رجوع شرطونه 3دی.

**89.سوال**:کفالت باید څنګه ترسره شی؟

**جواب**:کفالت باید په صحیحې اجازه سره شوی وی.

**90.سوال**:دضمانت نسبت به چاته کیږی؟

**جواب**:دضمانت نسبت به اصیل ته کیږی.

**91.سوال**:دهغه ماشوم اجازه داعتباروړده چی په ده باندی بندیزونه اینسودل شوی وی؟

**جواب**: نه ماشوم اجازه،اعتباروړنه ده.

**92.سوال**:داوسنی عصردمهموتجارتی کفالتونه په څوډوله دی؟

**جواب**:په دري ډوله دی1.ددرک ضامن کیدل2.بازارضمانت کیدل3.وزن،ګزاوپیمانی کیدل.

**93.سوال**:حواله تعریف کړی؟

**جواب**:حواله په لغت کی نقلولوته وایي اوپه اصطلاح کی دمدیون له غاړی څخه دذمی اخستونکی غاړی ته دغوښتنی نقولوته حواله واب.

**94.سوال**:هجرت په څومره کال خلیفه ړټاکل شو؟

**جواب**:دهجرت په 13.کال خلیفه وټاکل شو.

**95.سوال**:حضرت عمرفاروق(رض)دچالخواپه شهادت ورسیدو؟

**جواب**:دیومجوسی غلام لخواچی ابولؤلؤنومیدپه شهلدت ورسیده.

**96.سوال**:کفالت په څوډوله ده؟

**جواب**:کفالت په دوه2ډوله ده.

**97.سوال**:حواله باید دچاپه امرترسره شوی؟

**جواب**:حواله باید دمحیل په امرترسره شوي.

**98.سوال**:حواله شوی مال بایدچاته ورکړل شوی وی اوچاته بښل شوی؟

**جواب**:حواله شوی مال بایدمحال ته ورکړل شوی وی اویامحال لخوامحال علیه ته بښل شوی وی.

**99.سوال**:محیل بایدپه چاباندی هم مثل پورونلری؟

**جواب**:محیل باید په محال علیه باندی هم مثل پورونلری.

**100.**سوال:محال عیه په محیل څخه دڅه شی غوښتنه کولاشی؟

**جواب:**محال عیه محیل څخه دهغه څه شی غوښتنه کولای شی چی ده پری حواله ورکړی وي.

**101.سوال:**که چیری محال علیه دپیسوپرځای محال ته جنس ورکړی دحواله کوونکی څخه به څه غواړی؟

**جواب:**ه چیری محال عیه دپیسوپرځای محال ته جنس ورکړی دحواله کوونکی څخه به پیسې غواړی نه جنس.

**102.سوال:**حواله دامام ابوحنفیه(رح)په نظر په څواوکوم شیانوپای مرږمی.

**جواب:**دووشیانو1.کله چی محال علیه کړشي2.کله چی محال علیه دحواله څخه منکرشی.

**103.سوال:**وکالت تعریف کړی؟

**جواب:**وکالت په لغت کی دساتنی سپارني اواعتمادپه معنی راغلی دی اوفقهی په اصطلاع کی په جایزاومعلوم تصرف کي دځان پرځاي دبل چاټاکل وکالت بلل کیږی.

**104.سوال:**وکالت دروالي دلیل څه دي؟

**جواب:**وکالت په قرآنکریم،نبوی احایثو،اواجماع باندی رواشوی دی.

**105.سوال:**رسوالله (ص) دقربانی لپاره دمال اخستلوپه خاطرڅوک وکیل کوی؟

**جواب:**رسوالله(ص)دقربانی دمال اخستلولپاره حکیم بن حزام وکیل کړی ؤ.

**106.سوال:**رسوالله(ص)دپیسه داحستلولپاره څوک وکیل نیوی وه؟

**جواب:**عروة البارقي وکیل نیولی وه.

**107.سوال:**حضرت محمد(ص)پلارڅه نومیده؟

**جواب:**عبدالله نومیده.

**108.سوال:**دحضرت محمد(ص)دنیکه نوم څه ده؟

**جواب:**عبدالمطلیب نومیده.

**109.سوال:**دحضرت محمد(ص)مورڅه نومیده؟

جواب:بي بي امینه نومیده.

**110.سوال:**حضرت محمد(ص)سی وفات سوڅوکلن وه؟

**جواب:**(63)کلن وه.

**111.سوال**:شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْ اُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْانُ؟

**جواب**:درمضان میاشت هغه ده په کومه کی چی قرآنکریم نازل شوی.

**112.سوال**:اِنَّااَنْزَلْنهُ فِیْ لَیْلَةِ الْقَدْرِ؟

**جواب**:موږقرآنکریم په لیلة القدرکی نارل کړی دي.

**113.سوال**:فرآنکریم اول چیرته نارل شو؟

**جواب**:په مکه مکرمه کی یوغر دی چی ده حراپه نوم یادیږي.

**114.سوال**:لِکُلِّ قُوْمٍ هَادِ؟

**جواب**:دهرقوم لپاره هدایت لیږل شوي.

**115.سوال**:دحضور(ص)معراج په ویښه وواوکه په ویدو؟

**جواب**:حضور(ص)له خپل مبارک جسم سره معراج ته تشریف وړی وونوځکه دهغه معراج په وښه وو.

**116.سوال**:بي بي امینه سی وفات شوحضرت محمد(ص)څوکلن وه؟

**جواب**:(6)شپږکلن وو.

**117.سوال**:مسبوق چاته ویل کیږی؟

**جواب**:مسبوق هغه چاته ویل کیږی چی له امام سره یې اول یانوررکعتونه نه وی نیولی.

**118.سوال**:کسوف څه ته وایې؟

**جواب**:کسوف دسپوږمی توروالی ته وایي.

**119.سوال**:دکسوف لمانځه حکم څه شی دی؟

**جواب**:دکسوف لمونځ مؤکدسنت دی.

**120.سوال**:خسوف څه ته واي؟

**جواب**:دلمردسترګی توروالی ته وایې.

**121.سوال**:جنازه تعریف کړی؟

**جواب**:کله چي مړبشخولوته برابرشی اودلمانځه ادفن لپاره وړل کیږی نودی ته جنازه واي.

**((لیــــــــکوونکي مـــــــحمدولي هــــــــمدرد))**